Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service

TURVAPAIKKA-, MAAHANMUUTTO- JA KOTOUTTAMISRAHASTO
Euroopan unionin tuella

## د فینلینډ د مهاجرت اداره کې د ډبلین مرکه

تاسو د فنلنډ د مهاجرت خدمت لخوا مرکې ته رابلل شوي یاست. مهرباني وکړئ دا لارښوونې په دقت سره ولولئ، چې دا به ستاسو حقونه او مسؤلیتونه په مرکه کې تشریح کوي. که تاسو ددې لارښوونو اړوند کومې پوښتنې لرئ، تاسو کولی شئ د مرکې په پیل کې د فنلینډ د مهاجرت ادارې کارکوونکي څخه د لا زیاتو معلوماتو غوښتنه وکړئ.

## ددې مرکې موخه څه ده؟

- تاسو په فنلنډ کې د پناه غوښتنه کړې. د فینلینډ د مهاجرت اداره به ستاسو غوښتنلیک په تفصیل سره تر هغه وخته نه پروسس کوي تر څو چې هغه هیواد چې ستاسو د غوښتنلیک د پروسس کولو مسؤل دی، وټاکل شي.
- په مرکه کې به له تاسو څخه داسې معلومات وغوښتل شي چې په دې پرېکړې به اغیزه وکړي چې ایا ستاسو د پناه غوښتنه باید په فینلینډ کې پروسس شي او که نه. په دې مرکه کې به ستاسو د پناه غوښتنې د لاملونو باندې بحث ونشي.
- هغه هیواد چیرې چې ستاسو د پناه غوښتنې درخواست به پکې پروسس شي د هغې کړنلارې له مخې ټاکل کیږي چې د ډبلین مقررې په نامه پیژندل کیږي، کوم چې د اروپایي اتحادیې د قانون یوه برخه ده.
- د ډبلین د مرکې پر بنسټ، د فینلینډ د مهاجرت اداره به دا پریکړه وکړي چې کوم هیواد ستاسو د پناه غوښتنې د پروسس کولو مسؤلیت لري او که ستاسو د پناه غوښتنه باید په فینلینډ کې وڅیړل شي.
- د ډبلین مقررې هیوادونو کې ټول د اروپایي اتحادیې هیوادونه، ناروې، سویس، آیسلنډ، او لیختن شتاین شامل دي.
- ستاسو غوښتنه ممکن و نه څیړل شي که تاسو لا دمخه په کوم بل اروپایي اتحادیې هیواد کې قبولي ترلاسه کړې وي. په دې حالت کې، د ډبلین کړنلاره به په تاسو تطبیق نه شي او د مرکې موخه دا دی چې دا معلوم کړي آیا کوم داسې دلیلونه شته چې ستاسو غوښتنه باید بیا هم په فینلینډ کې وکتل شي.
- که تاسو غواړئ د نورو دلیلونو په اساس د استوګنې جواز لپاره غوښتنه وکړئ، نو تاسو باید یوه جلا غوښتنلیک وسپارئ چې د هغې لپاره باید فیس هم ورکړئ. په دغو دلیلونه کې د کورنۍ اړیکې هم شامل کېدای شي.

## په مرکه کې ستاسو حقوق څه دي؟

- تاسو حق لرئ چې مرکې ته قانوني وکیل راولی. وکیل به په مرکه کې په هغه طریقه برخه واخلي چې دوی یې مناسب ګڼي.
- تاسو باید پخپله وکیل ومونډئ. که تاسو د مرکې لپاره وکیل پیدا نه کړي، موږ لا هم مرکه پرته له وکیل څخه پرمخ وړلی شو.
- په مرکه کې به یو ژباړونکی شتون ولري. د ژباړوونکی دنده دا دې چې هر هغه څه چې په مرکه کې ویل کیږي په بې طرفي سره ژباړي. ژباړوونکی به یا په حضوري توګه موجود وي، یا به د ټیلیفون اړیکه یا د ویډیو لینک د ژباړې لپاره وکارول شي.
- مرکه کوونکی، ژباړوونکی، او وکیل د محرمیت ساتلو مکلفیت لري. دا په دې مانا دې چې دوی ممکن کوم بهرني اړخ ته د هغه څه په اړه چې موږ په مرکې کې پرې خبرې کوو معلومات ورنه کړي. موږ کولی شو ستاسو معلومات ستاسو د کورنی له غړو څخه هم پټ وساتو که چیرې د معلوماتو شریکول تاسې یا ستاسو د کورنی غړي په خطر کې اچوي یا تاسو ته زیان ورسوي. تاسو کولی شئ په مرکه کې موږ ته وواياست چې تاسو په دې اړه څه فکر کوئ.
- د یوې قاعدې په توګه، هغه اسناد چې ستاسو پورې اړه لري هم باید محرم وساتل شي.

## په مرکه کې ستاسو کوم مسؤلیتونه دي؟

- دا ستاسو په ګټه ده چې په مرکه کې د هر هغه څه په اړه ربښتیا ووایاست کوم چې کېدای شي ستاسو درخواست باندې اغیزه وکړي.
- دا ستاسو په ګټه ده چې د هغو شیانو په اړه هم خبرې وکړئ کوم چې تاسو ته ستونزمن ښکاري.
- که داسې څه وي چې تاسو یې په یاد نه لرئ یا یې پرې نه پوهیږئ، هڅه مه کوئ چې ځواب جوړ کړئ. که تاسو ریښتیا ونه وایاست، دا کولی شي ستاسو په کیسه باور کول خورا ستونزمن کړي.
- تاسو باید په مرکه کې خپل سم شخصي معلومات ورکړئ. که تاسو د خپل هویت د تایید لپاره کوم سندونه نه لرئ، تاسو باید خپله هڅه وکړئ چې دا اسناد ترلاسه کړئ او د فینلینډ د مهاجرت ادارې ته یې وسپارئ. د دې ډول اسنادو بیلګې د هویت اسناد یا د سفر سندونه دي. تاسو کولی شئ وروسته خپل شخصي معلومات یوازې هغه وخت بدل کړئ که تاسو د یوې رسمي مرجع له لوري صادر شوی د باور وړ د هویت سند ولرئ.
- د فینلینډ د مهاجرت اداره ستاسو شخصي معلومات او ستاسو د پناه غوښتنې دلیلونه د مهاجرت د چارو لپاره د قضیې مدیریت سیستم کې ثبتوي، کوم چې یو رسمي د ثبت سیستم دی. رسمي ثبت ته د ناسمو مالوماتو ورکول یو د سزا وړ جرم دی.
- د قانون له مخې، چارواکو ته د غلطو شخصي معلوماتو ورکول یو د سزا وړ جرم دی.
- مهرباني وکړئ په یاد وساتئ که تاسو غلط معلومات ورکړئ، یا سم معلومات پټ وساتئ، نو هغه اجازه چې تاسو ته درکړل شوې وه ممکن وروسته بیرته واخیستل شي. همدارنګه دا به ستاسو نورې چارې هم ستونزمنې کړي.

## څنګه باید د مرکي لپاره چمتووالی ونیسئ؟

- د مرکې څخه مخکې، ټولې هغه لارښوونې او بروشرونه ولولئ کوم چې د رسمي ادارو لخوا تاسو ته درکړل شوي. دا مهمه ده چې تاسو د ډبلین کړنلارې په اړه هم بروشرې تل ولولئ. که تاسو دا بروشرې نه لرئ، تاسو کولی شئ هغه د فینلینډ د مهاجرت ادارې په ویب پاڼه کې پیدا کړئ: https://migri.fi/en/brochures-and-publications. تاسو کولی شئ هغه د «پناه غوښتنه او د ډبلین کړنلاره» تر سرلیک لاندې ومومئ.
- که تاسو ددې لپاره یو موجه دلیل ولرئ چې ژباړوونکی یا مرکه کوونکی دې سړی یا ښځه وي، د مرکې نه مخکې د رسیپشن یو کارکوونکي ته دا وواياست. د رسیپشن مرکز به ستاسو غوښتنه د فنلنډ مهاجرت خدمت ته واستوي. د فینلینډ د مهاجرت اداره به د دې ارزونه وکړي چې آیا دلیل موجه دی که نه.
- که ستاسو فزیکي یا رواني روغتیا ممکن د مرکې په ترسره کولو اغیزه وکړي، د دې په اړه د رسیپشن مرکز کارمند ته وواياست. د ستاسو په رضایت، د رسیپشن مرکز کولی شي د مرکې نه مخکې د فینلینډ د مهاجرت ادارې ته خبر ورکړي.
- تاسو کولی شئ د غرمې تیاره ډوډۍ یا د غرمې ډوډۍ پیسې له ځانه سره راوړئ.
- هغه ټولې دواوې راوړئ چې د ورځې په جریان کې ورته اړتیا لرئ.
- همدارنګه، د خپل درخواست لپاره ټول اسناد او راپورونه هم له ځان سره راوړئ. په مرکه کې، تاسو باید تشریح کړئ چې دا څه دي او تاسو غواړئ د هغوی په وسیله څه ثابت کړئ.
- له ځانه سره ماشومان مه راوړئ. که تاسو غواړئ چې د مرکې پر مهال یو څوک ستاسو د ماشوم ساتنه وکړي، د مرکې ورځې څخه مخکې د دې په اړه د رسیپشن مرکز ته وواياست.
- مرکې ته ناوخته مه راځئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د سفر لپاره کافي وخت لرئ. د رسیپشن مرکز به تاسو ته ددې په اړه ووايي چې څنګه باید د فنلنډ مهاجرت خدمت ته راشئ.

## د فنلنډ د مهاجرت په اداره کې د مرکې په ورځ تاسو باید څه ترسره کړئ

- تاسو نشئ کولی د ښه دلیل پرته د مرکې نیټه بدله کړئ. که تاسو د مرکې په ورځ ناروغ یاست، سمدستي خپل د رسیپشن مرکز ته خبر ورکړئ. تاسو باید د رسیپشن په مرکز کې د نرس یا ډاکټر لخوا ورکړل شوې راپور په یوه اونۍ کې د مرکې له نیټې وروسته د فینلینډ د مهاجرت ادارې ته واستوئ. که تاسو د یو ښه دلیل پرته مرکه کې ګډون ونه کړئ، ستاسو د غوښتنې په اړه پریکړه ستاسو پرته هم کیدای شي.
- کله چې تاسو د فینلینډ د مهاجرت ادارې ودانۍ ته راشئ، ممکن ستاسو امنیتي پلټنه ترسره شي.
- هغه د پیرودونکو کارت امنیتي ساتونکي ته وښایئ کوم چې تاسو ته د رسیپشن مرکز لخوا درکړل شوی.
- یوازې هغه کسان چې مرکه ته بلل شوي وي، او نور هغه کسان چې مخکې د فینلینډ د مهاجرت ادارې لخوا منل شوي وي، کولی شي د انتظار خونې ته داخل شي.
- که تاسو وغواړئ چې یو حمایتي کس درسره راولئ، تاسو یا ستاسو حمایتي کس باید د مرکې نه مخکې په لیکلي ډول د فینلینډ د مهاجرت ادارې څخه غوښتنه وکړي. که نه نو، مرکه کوونکی به د مرکې په پیل کې پریکړه وکړي چې آیا حمایتي کس ستاسو سره پاتې کیدی شي که نه. حمایتي کس یو حقوقي وکیل نه وي، او دوی ستاسو د مسایلو په څیړلو کې برخه نه اخلي.
- مرکه کوونکی د فینلینډ د مهاجرت اداره لپاره کار کوي. دا کارمند به یا په حضوري توګه هلته وي یا د ویډیو لینک له لارې ستاسو سره مرکه وکړي.
- مرکه به ثبت شي. په خونه کې یو CCTV کمره هم شته چې ویډیو ثبتوي.
- د اړتیا په صورت کې تاسو کولی شئ د مرکې په جریان کې وقفې واخلئ. تاسو کولی شئ په هر وخت کې د وقفې غوښتنه وکړئ.

## په مرکه کې څه پېښېږي؟

- مرکه کوونکی به لومړی دا تشریح کړي چې په مرکه کې څه پیښیږي او ددې داډ ترلاسه کړي چې تاسو خپل حقونه او مسؤلیتونه درک کړي دي. که تاسو په کوم څه نه پوهیږئ، نو پوښتنه وکړئ. که تاسو په ژباړوونکي نه پوهیږئ، نو ووایاست.
- مرکه کوونکی به له تاسو څخه لاندې معلومات وغواړي:
  - ستاسو پېژندنه
  - ستاسو د کورنۍ او خپلوانو په اړه معلومات
  - په نورو هیوادونو کې ستاسو د استوګنې جوازونه، ویزې، او د پناه غوښتنو په اړه معلومات
  - په اروپا کې هغه ځایونه چیرې چې تاسو د فینلینډ څخه مخکې ژوند کاوه
  - فینلینډ ته ستاسو د سفر لاره
  - ددې دلیلونه چې ولې باید تاسو له فینلینډ څخه ونه شړل شئ («فنلند ته د ننوتلو یا پکې د پاتې کېدو څخه منع کېدل»)
  - ددې دلیلونه چې ولې باید ستاسو غوښتنه په فینلینډ کې پروسس شي که چیرې تاسو په بل هیواد کې قبولې ترلاسه کړې وي
  - تاسو د فینلینډ څخه د شړل کېدو («د هیواد څخه ویستل») او فینلینډ ته د ننوتلو څخه د منع کېدو («د ننوتلو بندیز») په اړه څه احساس کوئ
- پوښتنو ته په صادقانه توګه ځواب ورکړئ. ځوابونه له ځانه مه جوړوئ. که تاسو یو څه نه پوهیږئ یا په یاد کې مو نه وي، مرکه کونکي ته ووایاست.
- په مرکه کې، تاسو کولی شئ د فنلینډ د مهاجرت اداري ته داسې معلومات ورکړئ چې ممکن ستاسو په قضیه کې پر پریکړې اغیزه وکړي. د بیلګې په توګه، که په فینلینډ کې تاسو د کوم جرم په تور د شک لاندې یاست، یا که تاسو په دې هیواد کې د کوم جرم په تور محکوم شوي یاست، دا ممکن د فنلند د مهاجرت په اداري کې ستاسو د قضیې په پروسس باندې اغیزه وکړي. که اړتیا وي، د فینلینډ د مهاجرت اداره به تاسو ته په مرکه کې فرصت درکړي چې د دې مسلې په اړه خپل نظر څرګند کړئ.
- په پای کې، ژباړونکی به تاسو ته د مرکه کونکي لخوا لیکل شوی پروتوکول ولولي. که تاسو په دې کې کومه تېروتنه وګورئ، مرکه کونکي ته ووایاست. تاسو کولی شئ پروتوکول ته نور معلومات هم اضافه کړئ. له دې وروسته، پروتوکول به لاسلیک شي او تاسو به یې یوه کاپي ترلاسه کړي.

### د مرکې څخه وروسته څه پېښېږي؟

- د ډوبلین مقررات ددې لپاره مختلف دلیلونه ټاکي چې ولې یو ځانګړی هیواد ستاسو د غوښتنلیک دڅیړلو مسولیت لري. دا دلیلونه په لاندې توګه دي: 1) په دوبلین هیوادونو کې د کورنی غړي لرل، 2) د دوبلین هیوادونو ویزه یا د استوګنې جواز درلودل، 3)په دوبلین هیوادونو کې استوګنه یا له هغې څخه تېرېدل، او 4) د پناه غوښتنې پخوانی غوښتنلیک. د فینلینډ د مهاجرت اداره به د دغو دلیلونو ارزونه وکړي، په هغه ترتیب سره چې د دوبلین مقرراتو له مخې ټاکل شوي دي.
- که تاسو غواړئ وروسته موږ ته نور معلومات هم راکړئ، نو تاسو کولی شئ دا په لیکلي بڼه موږ ته راوسپارئ. موږ به ستاسو د قضیې په اړه په ټیلیفون کې خبرې و نه کړو ځکه چې موږ د زنګ وهونکي هویت نه شو تاییدولی.
- ستاسو د پناه غوښتنې اړوند پریکړه به د هغه معلوماتو او اسنادو پر بنسټ وي چې تاسو یې په مرکه کې ورکوی. د فینلینډ د مهاجرت اداره ممکن د خپلې پریکړې د ملاتړ لپاره له عامه سرچینو څخه هم معلومات ترلاسه کړي.
- که داسې پریکړه وشي چې تاسو باید بل هیواد ته واستول شئ ("د ننوتلو یا پاتې کیدو مخنیوی")، تاسو کولی شئ د دې پریکړې په اړه محکمې کې د استیناف غوښتنه وکړی. تاسو کولی شئ له محکمې څخه دا هم وغواړئ چې تر څو محکمه ستاسو استیناف پروسس کوي تاسو ته په فینلینډ کې د پاتې کیدو اجازه درکړي.
- که ستاسو غوښتنه په فنلنډ کې ونه څیړل شي، تاسو ممکن له فینلینډ څخه وشړل شي (فلند ته د ننوتلو یا پاتې کیدو څخه منع کېدل) یا تاسو ته ویل کیدی شي چې فینلینډ ته نشئ راتلی (د ننوتلو بندیز).
- که ستاسو غوښتنلیک ونه څیړل شوی یا تاسو خپله غوښتنه بیرته واخلئ، تاسو حق لرئ چې د داوطلبانه ستنیدو ملاتړ لپاره غوښتنه وکړئ. دا ملاتړ د ځانګړو شرایطو پراساس ورکول کیږي، چې کله تاسو د دې لپاره غوښتنه وکړئ، دا شرایط به وڅیړل شي. د خپل رسیپشن په مرکز کې د نورو معلوماتو غوښتنه وکړئ یا د فنلینډ د مهاجرت ادارې ویب پاڼه https://migri.fi/en/return کې د داوطلبانه ستنیدو مرستې لپاره د تماس معلومات وګورئ.